# د بېلابېلو غږونو له پلوه د سهېل ختیځ ګړدود ډلې د صوتي خصوصیاتو تحقیقي مطالعه

# research based study of the phonological features of South- A east varieties with the reference of consonants sounds.

Mir hassan khan Atal *

**Abstract**

Pashto, which is a very ancient language, belongs to the eastern Iranians group of the Indo-erupain language family. Pashto is not only spoken in a wide area, but the number of speakers (linguistic group) is also very large. This is also the reason that this ancient language has dozens of regional varieties and several major dialects such as south-west (kandhanri), south-east (Southern Pashtonkhwa), north-west (centeral Ghilzis), north-east (Ningarhari/Peshawri/Yousafzai), centeral (Karalani) and Tarino (Waɳetsi). the South-east dialect, which is also mentioned as part of the South-west dialect (Kandahari dialect) in some literary works and discusions, has such special phonological and others linguistics features that it can be considered a separate dialect despite some similarities. this dialect (South-east varieities) is spoken in the extreme southeastern parts (Southern Pashtunkhwa) of the Pasthto speaking area. in this research paper, a research based study has been made the special phonological features of this dialect (South-east dialect) wtih the reference of consonants sounds. and those special phonological features have been brought under investigation that can be considered special for this dialect.

**keywords:** phonological features, consonants sounds, regional varieties, major dialects.

**پېژندګلوي:** پښتو چې یوه ډېره لرغوني او پخوانۍ ژبه ده په اصل کښې د انډو یورپین کورنۍ له ختیځ ایراني ژبډلې سره تعلق لري. دا یوه داسې خوره وره ژبه ده چې نه یواځې په یوهٔ خور اور وطن کښې وئیل کېږي، بلکې د غږاکونکو (لساني ډله) شمېر ئې هم خورا ډېر او تر میلنونو اوړي. د اوسېدونکي ترمنځ ئې د تګ راتګ او نورو ټولنیزو اړیکو نظام تل کمزورے یا وئیلے شو چې تل پشے پاته شوے دے. بله د پام وړ خبره دا ده چې دغه خور اور وطن (پښتونخوا وطن) د خپل طبعي خدوخال، موسم او اب و هوا له پلوه هم ځان ته ځانګړي

* Ph.D. scholar, Pashto academy, university of Peshawar

خصوصیات لري. پر یوه وخت هسکې او غریزې سیمې، شین زرغونه مېدانونه، آبادې او غېرآبادې ناوې، یخ او واورین کوتلان، تنګې او اوږنې درې، تاوده دامانونه، نګې درې او ګڼ نفوسه ښارونه لري، چې ټول هغه اهم او پام وړ عوامل ګڼلې شو چې د پښتو ژبې د لویو او سیمه ایزو لهجو په رغښت یا سازولو کښې ئې د پام وړ رول لوبولے دے. هم دا وجه ده چې دغه لرغونې ژبه پر یوه وخت په لسګونو سیمه ایزې او دا ډول څو لوئې لهجې یا لهجوي ګروپونه لکه: سهېل لوېدیځ (کندهاری لهجه)، سهېل ختیځ (سهېلي پښتونخوا)، شمال لوېدیځ (منځني غلزي)، شمال ختیځ (ننګرهاری/پېښوری)، منځنے (کرلاڼي لهجه) او ترینو (وڼېڅي) لري. سهېل ختیځ ګړدود ډله (سهېلي پښتونخوا) چې په لوے سر کښې د سهېل لوېدیځ ګړدود (کندهاری لهجه) برخه ګڼلې شي، د پښتون مېشتو سیمو (پښتونخوا وطن) د مجموعي جغرافیائي موقعیت له پلوه په انتهائي سهېل ختیځو برخو کښې وئیل کېږي. دغه ګړدود ډله (لهجوي ګروپ) د دې باوجود چې له خپلې مرکزي ګړدود ډلې (کندهاری یا نرمه لهجه) سره د پام وړ فونولوجیکل، مافولوجیکل، لغوي او نور ژبني مماثلتونه لري، خو بل لور ته دغه ګړدود ډله یو شمېر داسې ځانګړي لهجوي او غږېز خصوصیات هم لري چې د یوې بېلې لهجې د رغښت یا جوړښت دپاره پوره ګڼلې شي. په دغه تحقیقي مقاله کښې د سهېل ختیځ ګړدود ډلې د بېواکو غږونو تحقیقي جائزه اخستل شوې ده، او د هغو په رڼا کښې د هغو صوتي او لهجوي خصوصیاتو د راسپړلو کوشش شوے دے چې د دې لهجوي ډلې ځانګړې ګڼلې شي.

## (۱). د سهېل ختیځ ګړدود ډلې لهجوي او غږېز رغښت

سهېل ختیځ ګړدود ډله (سهېل ختیځه لهجه) که څه هم په لوے سر کښې د (سهېل لوېدیځ یا کندهاري لهجې) ذیلي برخه او تر ډېره بریده هغهٔ ته ورته لهجوي خصوصیات او غږېزې ځانګړنې لري. په خاصه توګه د پښتو ژبې د دوو ځانګړو بېواکو فونیمونو (ښ ــ ʃ) او (ږ ــ z) له پلوه دغه دواړه لهجوي ډلې یو ډول لهجوي او غږېزې ځانګړنې لري.1 له دې پرته د یو شمېر نورو بېواکو غږونو لکه: (ځ، څ، ږ، ښ) د تلفظ په برخه کښې هم دغه دوې ګړدود ډلې (سهېل لوېدیځ او سهېل ختیځ) له یوهٔ بل سره تر اوستري بریده لهجوي او غږېز (phonological) مماثلتونه لري. دا ډول د محوري ضمېرونو لکه: سي، سو، سوے، سول او نورو ژبنیو ځانګړو له

1. Morgensterne , Georg, Report on a linguistic Mission to north-western India, P. 28.

پلوه هم دغه دغه دواړه لهجوي ګروپونه یو ګڼلي شي. خو بل لور ته د دغو دوو لهجوي ډلو ترمنځ یو شمېر داسې بنیادي فونولوجیکي، مورفولوجیکي، لغوي او نور لساني توپیرونه هم شتون لري، چې دغه دوې لهجوي ډلې له یوه بل څخه بېلې او ځانګړې ارزول کېږي. نامتو لیکوال او ژبپوه «مېک کېنزي» چا چې د کال ۱۹۵۹م په اوږدو کښې د معیاري پښتو ( a standard pashto) په نوم یوه مقاله لیکلې ده، هم د خپل یاد مضمون په اوږدو کښې د دغو دوو لهجو لهجوي توپیرونو ته نه یوازې اشاره کړې ده، بلکې یو شمېر داسې مثالونه ئې هم رانقل کړي دي چې د دې دعوې دپاره ئې پوره ګڼلي شو. نوموړي ژبپوه «مېک کېنزي» د دغو دوو ګړدودونو (سهېل لوېدیځ او سهېل ختیځ) د لهجوي او صوتي توپیرونو تعین او نشاندهي داسې کړې ده:

| سهېل ختیځ ـ ګ | | سهېل لوېدیځ ـ ګ | |
|---|---|---|---|
| ش | š | ښ | ʂ |
| ژ | ʒ | ږ | ʐ |
| څ | ts | څ | ts |
| ځ[1] | dz | ځ | dz |

دا ډول یو بل ختیځ پوه «ډینئل هالبرګ» چا چې د پښتو ژبې د بېلابېلو لهجو ترمنځ د لغوي مماثلتونو او توپیرونو پر موضوع د پام وړ څېړنې کړې دي، هم نه یوازې د نوموړي ژبپوه «مېک کېنزي» د نظر تاید کړې دے، بلکې واے دغه ژبپوه چې د کومو څلورو غږونو (Phonemes) د تلفظ پر بنیاد د څلورو سیمو د څلورو لهجوي ګروپونو (سهېل لوېدیځ (کندهار)، سهېل ختیځ (کوټه/ سهېلي پښتونخوا)، شمال لوېدیځ (منځني غلزي)، او شمال ختیځ (ننګرهارې/ پېښورې/یوسفزي) تعین کړے هغه پر ځاے او د پام وړ دي.

له دې پرته یو شمېر نورو ژبپوهانو هم وخت په وخت په خپلو لیکنو او تحقیقي مباحثو کښې د دغو دوو څنګلورو لهجوي ډلو (سهېل لوېدیځ او سهېل لوېدیځ) ترمنځ د شتون لرونکو صوتي، فونولوجیکي او لساني توپیرونه یادونه کړې ده. خو دا خبره هغه وخت لاواضع او په نوې توګه روښانه شوه چې کله ما د «سهېل ختیځ ګړدود ډلې لساني مطالعه» تر عنوان لاندې د

سهېل ختیځ ګړدود ډلې د سیمه ایزو لهجو (south-east varieties) د تحقیقي او تجزیاتي مطالعې کار ترسره کړ. له دغې څېړنې او تجزیاتي هڅو وروسته هغه ټول اهم او بنیادي توپیرونه هم د ژبپوهنې د مروجه اصولو مطابق په ترتیب سره په ګوته کړل چې د دغو دوو ګړدود ډلو (سهېل لوېدیځ او سهېل لوېدیځ) ترمنځ موجود وو خو راسپړل شوي لا نه وو. په یاد اثر کښې «سهېل ختیځ ګړدود ډلې لساني مطالعه» د دغو دوو لهجوي ډلو ترمنځ د شتون لرونکو لهجوي توپیرونو په اړه داسې وئیل شوي دي:

"سهېل ختیځ ګړدود د پښتو ژبې څلورم، او د یوۀ بېل اساسي ګړدود په توګه منل شوے دے. دغه ګړدود (سهېل ختیځه لهجه) که څه هم په لوي سر کښې (سهېل لوېدیځ ګړدود) ته ورته او د هغۀ په څېر لهجوي او ژبنۍ ځانګړنې لري. په خصوص د پښتو ژبې د دوو ځانګړو غږونو (ښ ـــ) او (ږ ـــ) په برخه کښې دغه دواړه لهجوي ګروپونه یوۀ بل ته ورته او ترمنځ ژور او پام وړ لهجوي مماثلتونه لري. خو بل لور ته دغه دوه څنګلوري لهجوي ګروپونه (سهېل لوېدیځ او سهېل ختیځ) ترمنځ داسې فونولوجیکي او مورفولوجیکي توپیرونه هم لري، چې له کبله ئې تل د بېلو بېلو ګړدودونو په څېث ګڼل شوي دي"[2]

## (۱.۱). تم بېواک (plosive) غږونو له پلوه

سهېل ختیځ ګړدود ډله د تم بېواک (plosive) غږونو له پلوه د پښتو معیاري ګړدود ته ورته غږېز خصوصیات او ځانګړنې لري. ځکه چې د دې ډلې اتۀ سره تم بېواک غږونه لکه (پ، ب، ت، ټ، د، ډ، ک، ګ) نه یواځې د دې ګړدود ډلې د غږېز نظام برخه دي، بلکې لوے شمېر ئې په خپل اصل تلفظ هم ادا کېږي. پرته له (ب ــ b) او ( د ــ d) څخه نور ټول د کلمو په سر، منځ او پاے کښې کوم ځانګړي غږېز تغیر ته مخامخ کېږي. البته د مستعارو کلمو (loanwords) د پاے (ب ــ b) زیاتر وخت خپل اصل غږ په (پ ــ p) بدلوي. چې په نتیجه کښې ئې یو ډول بنیادي لهجوي توپیرونه رامنځ ته کېږي. لکه:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| /ب/ | /b/ | معیاري لهجه | رباب | ګلاب | کباب | اسباب | ثواب |
| | | | Rabāb | gulāb | kabāb | asbāb | |
| | | س/خ لهجه | رباپ | ګلاپ | کباپ | اسباپ | ثواپ |

asbāp kabāp gulāp Rabāp

خو دلته دا یادونه ضروري ده چې د تم ببواک ډلې د دغه فونیم (ب ـ b) دغه غږیز تغیر یواځې د مستعار کلمو (loanwords) د تلفظ تر بریده محدود ښکاري. ځکه چې په پښتو الصل ټولو کلمو کښې دغه فونیم (ب ـ b) که د کلمو په سر کښې راشي، که په منځ کښې او که بیا پا ے کښې خپل اصل تلفظ نۀ بدلوي. او د دې لهجوي ساحې ټول غږاکونکي (لساني ډله) ئې په اسانه او بغیر له کومې تلفظي ستونزې ادا کولے شي. لکه

| | غږ | لهجوي تقسیم | سر | منځ | اخري |
|---|---|---|---|---|---|
| شونډیزه | /ب/ /b/ | معیاري لهجه | بل Bəl | بابا bābā | وازتوب wāztob |
| | | س/خ لهجه | بل Bəl | بابا bābā | پراختوب prāxtob |

دا ډول د دغې ډلې یو بل غږ (د ـ d) هم د مستعار کلمو (loanwords) د تلفظ مهال خپل اصل غږ د خپلې ډلې (تم ببواک) په یوۀ بل تم غاښیزه غږ (ت ـ t) بدلوي. چې په نتیجه کښې ئې د پام وړ لهجوي توپیرونه منځ ته راځي، لکه:

| | غږ | نخښه | لهجوي تقسیم | سر | منځ | اخري |
|---|---|---|---|---|---|---|
| غاښیزه | /د/ | /d/ | معیاري لهجه | آباد ābād | مدد madad | برباد barbād |
| | | | س/خ لهجه | ابات ābāt | مدت madat | بربات barbāt |

دلته دا یادونه ضروري ده چې د دغه ببواک فونیم (د ـ d) د بدل تلفظ دغه ځانګړنه د پښتو ژبې په نورو ګړدودونو کښې هم ترسترګو کېږي. البته په زاداً پښتو کلمو کښې دغه غاښیزه غږ (د ـ d) په خپل اصل تلفظ وئیل کېږي. لکه:

| | غږ | لهجوي تقسیم | سر | منځ | پا ے |
|---|---|---|---|---|---|
| شونډیزه | /د/ /d/ | معیاري لهجه | داړل dāṛəl | دادا dādā | درلودل darloḍəl |

| س/خ لهجه | داړل | دادا | درلوډل |
|---|---|---|---|
| | dāṛəl | dādā | darloḍəl |

دا ډول د دغې لهجوي ډلې ټول غږاکونکي د دغې ډلې نور ټول غږونه لکه: (پ، ت، ډ، ټ، ک، ګ) که په هر ډول کلمو (ذاداً او مستعار) او هر موقعيت (سر، منځ، پاے) کښې راشي دوے ئې په خپل اصل تلفظ وئيلے شي. لکه:

| | غږ | ل/تقسيم | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|---|
| شونډيز | /پ/ | معياري لهجه | پوپل | توپير | توپ |
| | /p/ | | popəl | topir | top |
| | | س/خ لهجه | پوپل | توپير | توپ |
| | | | popəl | topir | top |
| غابنيزه | /ت/ | معياري لهجه | تياره | کتل | توت |
| | /t/ | | tiyāra | katəl | tūt |
| | | س/خ لهجه | تياره | کتل | توت |
| | | | tiyāra | katəl | tūt |
| غبرګ/ژ | /ډ/ | معياري لهجه | ډول | ډاډه | ډنډ |
| | /ḍ/ | | ḍol | ḍaḍa | ḍanḍ |
| | | س/خ لهجه | ډول | ډاډه | ډنډ |
| | | | ḍol | ḍaḍa | ḍanḍ |
| غبرګ/ژ | /ټ/ | معياري لهجه | ټول | ټټر | ټيټ |
| | /ṭ/ | | ṭol | ṭaṭar | ṭiṭ |
| | | س/خ لهجه | ټول | ټټر | ټيټ |
| | | | ṭol | ṭaṭar | ṭiṭ |
| نرم/تالو | /ک/ | معياري لهجه | کتل | کلکول | توک |
| | /k/ | | Katəl | klakawəl | tūk |
| | | س/خ لهجه | کتل | کلکول | توک |
| | | | Katəl | klakawəl | tūk |

| | /ګ/ | معیاري لهجه | ګل | منګول | جوړنګ |
|---|---|---|---|---|---|
| | /g/ | | Gwəl | mangwəl | ʤoṛang |
| | | س/ خ لهجه | ګل | منګول | جوړنګ |
| | | | Gwəl | mangwəl | ʤoṛang |

## (۱.۲). مښلي (احتکاکي) (fricative) بېواک غږونه

د د پښتو مښلي (fricative) غږونه (س،ز، ش، ښ،ژ، ږ، خ، غ، ه) چې ټول شمېر ئې (۹) دے، په سهېل ختیځ ګړدود کښې د خپل اصل او متبادل تلفظ له پلوه په دوو بېلابېلو ډلو تقسیمولے شو. ځکه چې یو شمېر غږونه په خپل اصل او یو شمېر بیا په متبادل تلفظ وئیل کېږي.

وړومبۍ ډله (خپل اصل تلفظ) : په وړومبۍ ډله کښې هغه غږونه لکه: (س ـ s)، (ز ـ z)، (خ ـ x) او (غ ـ γ) شامل دي چې په سهېل ختیځ ګړدود ډله کښې په خپل اصل تلفظ وئیل کېږي. یعني د دې لهجوي ساحې ټول اوسېدونکي کولے شي چې دغه مښلي بېواک غږونه د کلمو په (سر، منځ، پاے) کښې په خپل اصل تلفظ ادا یا ووائي. چې د وئینګ یا ادب پر وخت ئې هیڅ ډول لهجوي یا نور غږیز تغیرات نۀ رامنځ ته کېږي.

| | غږ | لهجوي تقسیم | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|---|
| اوريږ | /س/ | م/لهجه | سر | پوست | لاس |
| | /s/ | | Sar | post | lās |
| | | س/ خ لهجه | سر | پوست | لاس |
| | | | Sar | post | lās |
| | /ز/ | م/لهجه | زور | زرزري | نېز |
| | /z/ | | Zor | zarzari | nez |
| | | س/ خ لهجه | زور | زرزري | نیز |
| | | | Zor | zarzari | niz |
| ژبې ییز | /خ/ | م/لهجه | خور | کاختي | پوخ |
| | /x/ | | Xor | kaxti | pox |
| | | س/ خ لهجه | خور | کاختي | پوخ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | Xor | kaxti | pox |
| /غ/ | م/لهجه | غړک | بوغارې | کروغ |
| /γ/ | | γaṛak | būγāre | krūγ |
| | س/خ لهجه | غړک | بوغاري | کروغ |
| | | γaṛak | būγāri | krūγ |

لکه مخ کښې ووئيل دغه ګړدود ډله (سهېل ختيځ لهجه) د پاتو پنځو مښلو ببواکو غږونو لکه (ش ـ ʃ)، (ژ ـ ʒ)، (ښ ـ ʂ)، (ږ ـ ʐ) او (ه ـ h) د تلفظ له پلوه دوه ډوله لهجوي خصوصيات لري. ځکه چې دغه غږونه د يو شمېر غږاکونکو (لساني ډله) لخوا په يوۀ تلفظ او يو شمېر لخوا په متبادل تلفظ وئيل کېږي. چې د پام وړ غږيز تغيرات يا لهجوي توپيرونه رامنځ ته کوي.

**(ش ـ ʃ) کلک تالويز مښلي ببواک غږ تلفظ:** . پرته د پښين د ناوې چې اوسېدونکي ئې په سهېل لوېديځ ګړدود ډله (کندهارۍ لهجه) خبرې کوي، د دې لهجوي ساحې نور ټول اوسېدونکي (لساني ډله) دغه کلک تالويزه (palatal) غږ (ش ـ ʃ) د خپل اصل تلفظ پر ځاے د (س ـ s) په متبادل غږ تلفظوي، لکه:

| | غږ | لهجوي تقسيم | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|---|
| کلک تالويز | /ش/ | م/ لهجه | شګه | مياشت | مېشت |
| | /ʃ/ | | ʃaga | miyāʃt | meʃt |
| | | س/خ لهجه | سګه | مياست | مېست |
| | | | Saga | miyāst | Mest |

خو بل لور ته د دې خبرې دا معنا بلکل نۀ ده چې د دې لهجوي ساحې غږاکونکي د (ش ـ ʃ) غږ يو مخ نۀ شي تلفظولے. ځکه چې په د ځينو پښتو او ځينو متسعار کلمو (ش ـ ʃ) په خپل اصل تلفظ هم ادا کوي. لکه:

| | غږ | لهجوي تقسيم | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|---|
| کلک تالويز | /ش/ | معياري لهجه | شپه | شين | شکر |
| | /ʃ/ | | ʃpa | ʃin | ʃukar |

| | | | |
|---|---|---|---|
| س/ خ لهجه | شپه | شین | شکر |
| | ʃpa | ʃin | ʃukar |

بله دا پام وړ خبره دا ده چې د دې لهجوي ساحې د هغو سیمو اوسېدونکي چې د د دغې لهجوي ساحې (سهېلي پښتونخوا) په منځنیو او سهېل ختیځ سیمو کښې مېشت دي، هغه دغه غږ (ش ـــ ʃ) په (ښ ـــ ʂ) چې د تولید ځاے (place of articulation) له پلوه غبرګ ژبير (retroflex) غږ دے اوړي. دوے په یوه صورت هم د سپک (ش ـــ ʃ) غږ نۀ شي تلفظولے. چې په نتیجه کښې ئې د پام وړ لهجوي توپېرونه رامنځ ته کېږي. لکه:

| | غږ | نخښه | لهجوي تقسيم | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کلک تالويز | /ش/ | /ʃ/ | م/ لهجه | شربل | مشکنۍ | تروش |
| | | | | ʃarbəl | miʃkaɳay | trūʃ |
| | | | س/ خ لهجه | ښاعر | مښکنۍ | تروښ |
| | | | | ṣarbəl | miṣkaɳay | trūṣ |

د (ژ ـــ ʒ) کلک تالویز ښواک غږ تلفظ: (ژ ـ ʒ) هم هغه کلک تالویز (palatal) غږ دے چې پرته د پښنین د ناوې له اوسېدونکو، نور د دې لهجوي ساحې یو اوسېدونکے هم نۀ شي کولے چې دغه ږغ په اصل تلفظ ادا یا ووائي. دوے دغه ږغ (ژ ـ ʒ) د خپل اصل تلفظ پر ځاے د (ز ـ z) په متبادل غږ تلفظوي. چې مونږ ئې د دې ګړدود ډلې (سهېل ختیځ لهجوي ګروپ) یوه اهمه او بنیادي لهجوي ځانګړنه هم ګڼلے شو.

| | غږ | نخښه | لهجوي تقسيم | | |
|---|---|---|---|---|---|
| کلک تالويز | /ژ/ | /ʒ/ | م/ لهجه | ژوند | روژه |
| | | | | ʒwand | roʒa |
| | | | س/ خ لهجه | زوند/زمند | روزه |
| | | | | Zwand/zmand | roza |

"زما نوم نزر خان کیبزے دے، زۀ د مرغه کیبزي یمه، دلته زمونږ د خلګو زمند ډېر سخت دے، دلته ایخ ام نسته، اسپتال نسته، سړک نسته، روزګار نسته، بازار ام لیري دے، د خلګو زمند له ډېر سختو لوړو زورو سره مخ دے،

تالیمونه مو نهٔ دي کړي، زمونږ د خلګو یوه پښتو ژبه ژده ده، په نورو ژبو خبرې نهٔ سي کوے "[2]

دا ډول د دې لهجوي ساحې هغه ټول اوسېدونکي چې د پښین (لوېدیځه برخه)، چمن، عبدالله خان، ګلستان، توبه اڅکزي او دومندي په سیمو کښې مېشت او په سهېل لوېدیځ ګړدود خبرې کوي، هغه دغه کلک تالویز بېواک فونیم (ژ ـ ʒ) په خپل اصل غږ تلفظولے شي. خو دلته یوه بله د پام وړ یادونه هم ضروري ده چې توبه اڅکزي او نورو غریزو سیمو اوسېدونکي دغه غږ (ژ ـ ʒ) د خپل اصل تلفظ پر ځاے (ج ـ ʤ) ته ورته وائي. چې د یوې سیمه ایزې د رغښت یا جوړښت پېلامه ګرځي.

**د (ښ ـــ ʂ) بېواک غږ:** (ښ ـ ʂ) د پښتو د غږیز نظام یو داسې بېواک غږ دي چې د خپلو بېلابېلو تلفظاتو او وینګ له پلوه د پښتو ژبې د مجموعي لهجوي تقسیم سره ـ سره د بېلابېلو لهجوي ډلو د رغښت په برخه کښې هم د پام وړ رول او مقام لري. ځکه چې دغه بېواک غږ (ښ ـ ʂ) د پښتو ژبې د مجموعي لساني ساحې (پښتونخوا وطن) په بېلابېلو برخو کښې په بېلابېلو تلفظاتو ادا کېږي. یعني د یوې لهجوي ساحې پښتانهٔ ئې په یوهٔ او بلې لهجوي ساحې پښتانهٔ ئې په بل تلفظ وائي. چې په نتیجه کښې ئې بېلابېلې لهجې منځ ته راغلې دي. د پښتو ژبې نامتو لیکوال او ژبپوه ښاغلي مجاور احمد زیار هم په خپل اثر «پښتو پښویه» کښې نهٔ یوازې د دغه غږ (ښ ـــ ʂ) د بېلابېلو تلفظاتو ذکر کړے دے، بلکې د هغه د تولیدځایونو او تولید ډولونو یادونه ئې هم کړې ده. نوموړي ژبپوه په دې اړه وائي:

"په کندهار یا سویل لوېدیزه پښتو کې یو یاییزه ـــ مختالوییزه، غبرګژبیز، ناغږن مښلے بېواک (ṡ) دے. په سهېل ختیزه پښتو کې (ش) ویل کېږي. په ننګرهاری یا شمال ختیزه پښتو کې د (خ) غوندې ویل کېږي. په منځنی یا غلجی پښتو کې یو وروستے تالوییزه ناغږن مښلے بېواک (x) دے. "[3]

دلته نوموړي لیکوال او ژبپوه مجاور احمد زیار یو ځاے لیکلي دي چې په سهېل لوېدیځ (کندهاری لهجه) لهجه کې دغه غږ یو یاییزه ـ مختالوییزه، غبرګژبیز، ناغږن او مښلے

[2]. Personal comunication, 8th August 2023.

ښږواک دے. وروسته ئې د (ṡ) فونیمکي نخښه چې په اصل کښې د (IPA) د مروجه نخښو مطابق د سپک یا درې نقطه ایز شین (ش ـ ṡ) دپاره ټاکل شوې لیکلې ده. چې یوه علمي اشتباه ئې ګڼلے شو.

دا ډول له نومورې او لیکوال ژبپوه څخه د دې غږ د غږیزو خصوصیاتو د بیانولو پر وخت یوه بله د پام وړ اشتباه دا شوې ده چې د تولید ډول (Manner of articulation) له پلوه هم دغه غږ مختالوییزه نه بلکې منځتالوییز دے. ځکه چې کوم ځایےدۀ ښودلے دے هغه د سپک (ش ـ ʃ) دے. په سهیل لویدیځ او سهیل ختیځ ګړدودونو کښې دغه غږ مختالوییز نۀ بلکې منځتالوییزه دے. او د تلفظ پر وخت ئې د ژبې سر د تالو مخ ته نۀ بلکې منځ ته رجوع کوي. هم دا وجه ده چې د سپک (ش ـ ʃ) او دغه غږ ترمنځ ښکاره غږیز توپیر موجود دے. د (IPA) په چارټ کښې د دغه غږ دپاره د (ṣ) فونیمکي نخښه ټاکل شوې ده.[4]

په سهیل ختیځ ګړدود ډله کښې دغه ښږواک غږ (ښ ـ ṣ) له خپل اصل تلفظ سره په متبادل تفلظ هم وئیل کېږي. د دې لهجوي ساحې (سهیلي پښتونخوا) هغه اوسېدونکي چې په کوټه وال (کاسي لهجه) او سیوۍ وال (خجکو لهجه) سیمه ایزو لهجو خبرې کوي، هغه دغه غږ (ښ ـ ṣ) د خپل اصل تلفظ پر ځاے د (ش ـ ʃ) په مبتادل غږونو وائي. چې په نتیجه کښې ئې اهم لهجوي او غږیز تغیرات رامنځ ته کېږي.

| | غږ | لهجوي تقسیم | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|---|
| غبرګ ژبیز | /ښ/ | م/لهجه | ښاغلے | پښتون | پښ |
| | /ṣ/ | | ṣāγlay | paṣtūn | pāṣ |
| | | کوټه واله سیمه ایزه لهجه | شاغلے | پشتون | پش |
| | | | ʃāγlay | paʃtūn | paʃ |
| | | سیوۍ واله سیمه ایزه لهجه | شاغلے | پشتون | پش |
| | | | ʃāγlay | paʃtūn | paʃ |

خو بل لور ته د دې لهجوي ساحې (سهیلي پښتونخوا ) نور ټول اوسېدونکي کولے شي چې دغه منبلي غبرګژبیز ښږواک غږ (ښ ـ ṣ) په خپل اصل تلفظ ووائي: لکه:

| غږ | لهجوي تقسیم | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| غبرګ ژبيز | /ښ/ | م/لهجه | ښاغلے | پښتون | پښ |
| | /ṣ/ | | ṣāγlay | paṣtūn | pāṣ |
| | | س/خ لهجه | ښاغلے | پښتون | پښ |
| | | | ṣāγlay | paṣtūn | pāṣ |

**د (ږ ـــ ẓ) غبرګ ژبيز ښواک غږونه:** دغه ښواکغږ (ږ ـ ẓ) هم د پښتو په بېلابېلو لهجو کښې په بېلابېلو تلفظاتو وئيلے شي. نامتو ليکوال او ژبپوه مجاور احمد زيار د دغه غږ توليدځايونو او توليد ډولونو يادونه داسې کوي:

"ږ په سويل لوېديز پښتو کې منځنے تالوييز، غبرګژبيز، موښن ناغږن (ž) دے. په سويل ختيزه کې (ژ) او شمال ختيځ پښتو کې (ګ) غوندې ويل کېږي. په منځنۍ يا غلجۍ پښتو کې يو وروستے تالوييزه، غږن منښلے ښواک (ğ) دے چې د وئنګ پر وخت ئې د ژبې وروستۍ برخه د تالو له وروستۍ برخې سره نښلي او په دې توګه د ساه بهنګ د اواز په ړېږ کې مېښنه او سولېدنه مومي، لکه په بېلګو کې: ږلۍ (ğaləy)، ږدن (ğdən)، ورږ (wrāğ) او نور." [5]

نوموړي ليکوال او ژبپوه د دغه غږ غږيزو خصوصياتو پر وخت ليکلي دي چې دغه غږ (ږ ـــ ẓ) په سهېل لوېديځ (کندهارۍ لهجه) کې مختالوييزه، غبرګژبيز، موښلي او ناغږن دے. فونيمکي نخښنه ئې (ž) ده. چې په اصل کې د (IPA) د ټاکل شوو نخښو سره سمون نۀ خوري. ځکه چې د (IPA) په چارټ کښې دغه نخښه (ž) د (ږ) نۀ بلکې د (ژ) دپاره ټاکل شوې ده. بله د پام وړ خبره دا ده چې په سهېل لوېديځ لهجه کښې دغه غږ هم مختالوييزه نۀ بلکې منځتالوييز دے. او فونيمکي نخښنه ئې (ž) نۀ بلکې (ẓ)[6] ده. محمود مرهون هم په خپل کتاب «اواز پوهنه» کښې دغه غږ (ږ ـ ẓ) منځتالويزه ښودلي او وائي: "غبرګژبيزه مښلي به لوېديځه لهجه کي (ښ ـ ṣ) او (ږ ـ ẓ) دي"[7]

په سهېل ختيځ ګړدود ډله کښې دغه ښواک غږ هم لکه (ښ ـ ṣ) دوه ډوله غږيز خصوصيات لري. ځکه چې د دې لهجوي ساحې (سهېلي پښتونخوا) يو شمېر اوسېدونکي ئې په خپل اصل او يو شمېر اوسېدونکي ئې په متبادل غږ تلفظوي. په خصوص د دې لهجوي ساحې هغه اوسېدونکي چې په کوټه وال (کاسي لهجه) او سيوۍ وال (خجکو لهجه) سيمه اېزو لهجو

خبرې کوي، هغه دغه غږ (ږ ـــ ẓ) د خپل اصل تلفظ پر ځاے د (ژ ـ ž) په مبتادل غږ وائي. چې په نتیجه کښې ئې اهم لهجوي او غږیز تغیرات رامنځ ته کېږي، لکه:

| | غږ | لهجوي تقسیم | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|---|
| غبرګ ژبیز | /ږ/<br>/ẓ/ | م/ لهجه | ږیره<br>ẓira | مېږي<br>meẓay | کوږ<br>koẓ |
| | | کوټه واله سیمه ایزه لهجه | ژیره<br>ʒirz | میژے<br>miʒay | کوژ<br>kiʒ |
| | | سیوی واله سیمه ایزه لهجه | ژیره<br>ʒirz | میژے<br>miʒay | کوژ<br>kiʒ |

البته د دې لهجوي ساحې (سهېلي پښتونخوا) نور ټول اوسېدونکي دغه غږ (ږ ـ ẓ) په خپل اصل تلفظ وئیلے شي. لکه:

| | غږ | لهجوي تقسیم | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|---|
| غبرګ ژبیز | /ږ/<br>/ẓ/ | م/ لهجه | ږیره<br>ẓira | مېږي<br>meẓay | کوږ<br>koẓ |
| | | س/ خ لهجه | ږیره<br>ẓira | مېږي<br>meẓay | کوږ<br>koẓ |

**د (ه ـــ h) بېواک غږ:** لکه د یو شمېر نورو بېواکو غږونو په څېر د دې لهجوي ساحې (سهېلي ښتونخوا) یو غږاکونکے هم نهٔ شي کولے د (ه ـ h) غږ تلفظ کړي. دوے دغه بېواک فونیم د په کلمو د موقعیت مطابق کله په (ا ـ ā) کله په (زور ـ a) او کله (ي ـ i) ورته تلفظوي. چې په نتیجه کښې ئې د پام وړ غږیز او لهجوي تغیرات رامنځ ته کېږي.

| | غږ | لهجوي تقسیم | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|---|
| ستونیز | /ه/<br>/h/ | م/ لهجه | هلک<br>halak | بهیر<br>bahir | سهېل<br>sohel |
| | | س/ خ لهجه | الک | بـ یر | ایله |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | ālak | ba:ir | ila |
| م/ لهجه | هیله | لهجه | کهول |
| | hila | lahdʒa | kahol |
| س/خ لهجه | ایله | لیجه | کَ:اول |
| | ila | lidʒa | ka:ol |

## (۱.۳). اوبلن یا مایع بېواک (liquid) بېواک غږونه

سهېل ختیځ ګړدود ډله د اوبلنو یا مایع غږونه (ل ـــ l)، (ر ـــ r ) او (ړ ـــ ṛ ) له پلوه کوم داسې ځانګړي خصوصیات نه لري چې د پښتو غږیز نظام له غږیزو ځانګړنو سره توپیر ولري. یا کوم د پام وړ غږیز یا لهجوي توپیر رامنځ ته کړي. ځکه چې دغه درې سره اوبلن (مایع) (ل ـــ l)، (ر ـــ r ) او (ړ ـــ ṛ ) غږونه په خپل اصل اصل تلفظ وئیل کېږي.

| | غږ | لهجوي تقسیم | سر | منځ | پای |
|---|---|---|---|---|---|
| اړخیزه اوبلن | /ل/ | م/ لهجه | لوند | کلک | تول |
| | /l/ | | lūnd | klək | tol |
| | | س/خ لهجه | لوند | کلک | تول |
| | | | lūnd | klək | tol |
| رپېدونکي | /ر/ | م/ لهجه | روان | تارونه | کار |
| | /r/ | | rawān | tarūna | kār |
| | | س/خ لهجه | روان | تارونه | کار |
| | | | rawān | tarūna | kār |
| نااړخیزه اوبلن | /ړ/ | م/ لهجه | ړټ | کړېدل | کاړ |
| | /ṛ/ | | ṛat | kaṛedəl | kaṛ |
| | | س/خ لهجه | ړټ | کړېدل | کاړ |
| | | | ṛat | kaṛedəl | kaṛ |

البته دلته یوه یادونه ضروري ده چې د دې لهجوي ساحې (سهېلي پښتونخوا) د شمال لوېدیځ سیمو لکه د توبه اڅکزي، چمن او یو شمېر نورو نېږدې سیمو اوسېدونکي د (ړ ـ ṛ) غږ نسبتاً خفي یا وئیلې شو چې (ر ـ r) وزمه تلفظوي. چې دا هم غږېز توپیر نه ئې شو ګڼلې.

## (۴.۱). پزیزه (Nasal) بېواک اوازونه

سهېل ختیځ ګړدود ډله د اوبلنو بېواکو په څېر د پزیزو بېواکو غږونو (م ـ m)، (ن ـ n) او (ڼ ـ ɳ) د تلفظ په برخه کښې هم کوم داسې ځانګړي غږېز خصوصیات نه لري، چې د پښتو له مرکزي ګړدود سره توپیر ولري. ځکه چې درې سره پزیز غږونه د کلمو په سر، منځ او پاے په خپل اصل تلفظ وئیلې شي. فقط د سیوۍ وال (خجکو لهجه) سیمه ایز ګړدود غږاکونکي د (ڼ ـ ɳ) غږ (ن ـ n) ته ورته تلفظوي. چې یو ډول لهجوي تغیرات را منځ ته کوي. او د دې غږېز تغیر بنیادي لامل امکان لري دا وي چې دغه سیمه ایز ګړدود تر ډېره بریده له خپلو څنګلورو ژبو لکه سندهي او نورو څخه متاثر شوې ښکاري.

| | غږ | لهجوي تقسیم | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|---|
| پزیزه | /م/ /m/ | معیاري لهجه | منګول maagwəl | نرم naram | نامتو namtū |
| | | | منګول maagwəl | نرم naram | نامتو namtū |
| | /ن/ /n/ | معیاري لهجه | ننګ nəng | بنګ bamg | نن nan |
| | | س/خ لهجه | ننګ nəng | بنګ bamg | نن nan |
| | /ڼ/ /ɳ/ | معیاري لهجه | رڼا ruɳā | سکوڼ skūɳ | سکاڼ skāɳ |
| | | س/خ لهجه | رڼا rūɳā | سکوڼ skūɳ | سکاڼ skāɳ |

## (۱.۵). تم مښلي، مرکب (fricative) بېواک غږونه

سهېل ختیځ ګړدود ډله د منبلو مرکبو غږونه (څ ـ ʦ)، (ځ ـ ʥ)، (چ ـ ʧ)، (ج ـ ʤ) د تلفظ له پلوه ځان ته ځانګړي غږیز او لهجوي خصوصیات لري. ځکه چې د دغې لهجوي ساحې یو شمېر اوسېدونکي (لساني ډله) دغه څلور سره غږونه په خپل اصل تلفظ او یو شمېر اوسېدونکي ئې بیا په متبادلو غږونو تلفظوي. چې په نتیجه کښې د پام وړ لهجوي توپیرونه رامنځ کېږي.

**وړومبۍ ډله (متبادل غږونه):** په وړومبۍ ډله کښې دوه داسې بېواک غږونه (څ ـــ ʦ) او (ځ ـــ ʥ) شامل دي چې د دې لهجوي ساحې (سهېلي پښتونخوا) یو شمېر اوسېدونکي ئې په خپل اصل تلفظ او یو شمېر اوسېدونکي ئې په متبادلو غږونو وائي. او د دې بدلو تلفظاتو بنیادي محرک په اصل کښې جغرافیائي تقسیم ګڼلے شو، ځکه چې د دې لهجوي حوضې د شمالمي سیمو لکه پښین، عبدالله خان، چمن، هندوباغ، کلاسیف، زیارت، دوکۍ، لورالائي، موساخېل، شېراني، ږوب او نورو اوسېدونکي دغه غږونه په خپل اصل تلفظ وائي، لکه:

| | غږ | لهجوي تقسیم | سر | منځ | پای |
|---|---|---|---|---|---|
| اوریز غږونه | /څ/ | م/ لهجه | څوک | کڅوک | لوڅ |
| | /ʦ/ | | ʦok | kaʦwak | lūʦ |
| | | س/ خ لهجه | څوک | کڅوک | لوڅ |
| | | | ʦok | kaʦwak | lūʦ |
| | /ځ/ | م/ لهجه | ځوان | زنځیر | ورځ |
| | /ʥ/ | | ʥwān | zanʥir | wraʥ |
| | | س/ خ لهجه | ځوان | زنځیر | روځ |
| | | | ʥwān | zanʥir | rwaʥ |

خو بل لور ته د دې لهجوي ساحې (سهېلي پښتونخوا) د سهېلي سیمو په خصوص کوټه ښار، پنجپائي، سیوۍ، کوهلو او نورو نسیمو اوسېدونکي بیا دغه دوه غږونه (څ ـ ʦ) او (ځ ـــ ʥ) د خپل اصل تلفظ پر ځاے په دوو نورو متبادلو غږونو تلفظوي. او د پام وړ خبره دا ده چې دغه سهېلي سیمې هم وروسته په دوو برخو کښې وېشلے شو. ځکه چې یو شمېر ئې په یوه او یو

شمېر ئې په نورو مبتادلو غږونو تفظوي. هغه خلک چې په کوټه وال سیمه ایز ګړدود (کاسي لهجه) خبرې کوي، هغه دغه دوه غږونه (څ ـــ ts) او (ځ ـــ dz) د (س ـــ s) او (ز ـــ z) په دوو متبادلو غږونو تلفظوي. خو بل لور ته د سهېل ختیځ سیمو لکه سیوی، کوهلو او نورو اوسېدونکي پښتانهٔ بیا دغه دوه غږونه (څ ـــ ts) او (ځ ـــ dz) د (چ ـــ tʃ) او (ج ـــ dʒ) په متبادلو ببواکو غږونو تلفظوي. چې د دې لهجوي ګروپ (سهېل ختیځ ګړدود ډله) مجموعي لهجوي خصوصیاتو ته ځانګړے رنګ ورکوي. لکه:

| | غږ | نخښه | لهجوي تقسیم | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اوریز غږونه | څ /ts/ | | معیاري لهجه | څوک tsok | کڅوک katswak | لوڅ lūts |
| | | | کوټه واله لهجه | سوک sok | کسوک kaswak | لوس lūs |
| | | | سیوی واله لهجه | چوک tʃok | کچوک katʃwak | لوچ lūtʃ |
| | ځ /dz/ | | معیاري لهجه | ځوان dzwān | زنځیر zandzir | ګرځ gardz |
| | | | کوټه واله لهجه | زوان zwān | زنزیر zanzir | ګرز garz |
| | | | سیوی واله لهجه | جوان dʒwān | جنجیر dʒandʒir | ګرج gaṛdʒ |

دلته باید یوه بله د پام وړ یادونه وکړو چې هغه ټول پښتانهٔ قبائیل لکه اوستریاڼي، بابړ، میاخېل، ګنډه پور، کونډي، مروت او نور چې د چودوان، درابن، دېره اسماعیل خان، کلاچي، هتاله، ټانک، پنیاله، پهاړپور، لکي مروت او نورو داماني ورشوګانو کې ځاے په ځاے دي، هغه هم دغه دوه ببواک غږونه (ځ ـ dz) او (څ ـــ ts) د (ج ـ dʒ) او (چ ـــ tʃ) په متبادل ببواک غږ تلفظوي وائي.

| | غږ | نخښه | لهجوي تقسیم | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اوریز غږونه | څ | | معیاري لهجه | څوک | کڅوک | لوڅ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| /ts/ | | | tsok | katswak | lūts |
| | | دامانواله لهجه | چوک | کچوک | لوچ |
| | | | tʃok | katʃwak | lūtʃ |
| ځ | | معیاري لهجه | ځوان | زنځیر | ګرځ |
| /dʑ/ | | | dʑwān | zandʑir | gardʑ |
| | | دامانواله لهجه | جوان | جنجیر | ګرج |
| | | | dʒwān | dʒandʒir | gaṛdʒ |

دویمه ډله (اصل تلفظ): دا ډول په دویمه ډله کښې د دې ډلې (سهېل ختیځ ګړدود ډله) دوه نور هغه غږونه (چ ــ tʃ) او (ج ـــ dʒ) شامل دي، چې د دې لهجوي ساحې (سهېلي پښتونخوا) ټول اوسېدونکي (لساني ډله) يې د نورو پښتنو په څېر په خپل اصل تلفظ وائي.

| | غږ | نخښه | لهجوي تقسیم | سر | منځ | پای |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اوریز | چ | | معیاري لهجه | چابک | کچول | پوچ |
| | /tʃ/ | | tʃ | tʃābak | katʃkol | pūtʃ |
| | | | س/خ لهجه | چابک | کچول | پوچ |
| | | | | tʃābak | katʃkol | pūtʃ |
| | /ج/ | | معیاري لهجه | جاروتل | بیجله | کونج |
| | /dʒ/ | | | dʒārwatəl | bidʒəla | kwandʒ |
| | | | س/خ لهجه | جاروتل | بیجله | کونج |
| | | | | dʒarwatəl | bidʒəla | kwandʒ |

(۶.۱). ستونیز (glottal) بېواک غږونه

د نورو زیاترو پښتنو په څېر د سهېل ختیځ ګړدود ډلې هيڅ يو غړاکونکے هم نۀ شي کولے چې د (ح ــ ħ) او (ع ــ ʕ) ستونیزه بېواکه غږونه په خپل اصل غږ تلفظ کړي. دوے دغه په دوو نورو متبادلو غږونو (ا ـــ ā) او (ے ـــ i) تلفظوي.

(ح ـــ **ħ**): (ح ـ ħ) هغه ستونیزه (glottal) غږ دے چې کله د کلمو په سر او منځ کښې راشي نو د دغې لهجوي ساحې ټول اوسېدونکي (لساني ډله) ئې د (ا ـــ ā) او په ځينو مواقعو د

(ے ــ i) په متبادل غږ تلفظوي. او کله چې د کومې کلمې په پاے کښې راشي، نو بالکل نۀ وئيل کېږي، لکه:

| | غږ | نخښه | د تلفظ طريقه | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ستونيز | /ح/ | /ħ/ | معياري لهجه | حلوه | فتحات | ارواح |
| | | | | ħəlwā | fatoħāt | arwāħ |
| | | | س/خ لهجه | الوه | پتو:ات | اروا |
| | | | | ālwā | pato:āt | arwā |

د (ع ــ ʕ) تلفظ: (ع ــ ʕ) هم هغه ستونيزه (palatal) غږ دے چې کله د کلمو په سر يا منځ کښې راشي نو د دې لهجوي ساحې ټول اوسېدونکي (لساني ډله) ئې د خپل اصل تلفظ پر ځاے په (ا ــ ā) يا (ي ــ i) او کله کله زور (هَ ــ a) ته ورته تلفظوي. د کلم په سر کښې کله کله د (ا ــــ ā) او (و ــــ w) په ګډه هم تلفظ کېږي، کله عبدالولي: اودل ولي. عبدالسلام: اودل سلام او نور. دا ډول کله چې د کومې کلمې، اسم، صفت او يا بل لغت په پاے کښې راشي.... نو تلفظ ئې کله خاموش غوندې شي او کله بيا د پورته يادو شوو قاعدو مطابق ادا شي، لکه:

| | غږ | نخښه | د تلفظ طريقه | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ستونيز | /ع/ | // | معياري لهجه | عابد | اعلان | قانع |
| | | | | çābid | içlān | qāniç |
| | | | س/خ لهجه | ابيد | ايلان | کاني |
| | | | | ābid | ilān | kāni |

دا ډول دغې ګړدود ډلې (سهيل ختيځ لهجه) ټول غږاکونکي له دغو دوو ستونيز بېواکو غږونو (ح ـ ħ) او (ع ـ ʕ) علاوه د عربي نور اتۀ غږونه لکه (ث، ص، ض، ط، ظ، ء، ق، ف) هم د نورو پښتنو په څېر په مغن تلفظ تلفظوي، لکه:

| غږ | ل/ت | سر | منځ | پاے | غږ | ل/ت | سر | منځ | پاے |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| /ص/ | م/ل | صبر | اصل | خاص | /ظ/ | م/ل | ظم | مظلموم | ملفوظ |
| /sˤ/ | | sˤabar | asˤəl | xāsˤ | /ðˤ/ | | ðˤūlam | maðˤlūm | məlfūð |
| | س/ل | سبر | اسل | خاس | | س/ل | زولم | مزلوم | ملپوز |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | sabar | asəl | xās | | | zūlam | mazlūm | məlpūz |
| /ض/ | م/ل | ضعیف | قرضه | عروض | /ف/ | م/ل | فتبال | افغان | ضعیف |
| /d̪ˤ/ | | d̪ˤaçif | qard̪ˤa | çrūd̪ˤ | /f/ | | fuṭbāl | āfγān | d̪ˤaçif |
| | س/ل | زیپ | کرزه | اروز | | س/ل | پوټوال | اپغان | زیپ |
| | | zaip | karza | çarūz | | | pūṭwāl | āpγān | zaip |
| /ط/ | م/ل | طبیب | طوطي | فقط | /ق/ | م/ل | قلعه | اقا | حقوق |
| /t̪ˤ/ | | t̪ˤabib | t̪ˤot̪ˤi | faqat | /q/ | | qila | aqā | ħaqūq |
| | س/ل | تبیب | توتي | پکت | | س/ل | کیله | اغا | اکوک |
| | | tabib | toti | pakat | | | kila | āγā | ākūk |

**پایله**: د تېر څېړنیز بحث له رویه دا خبره جوته شوه چې دغه لهجوي ډله (سهېل ختیځ ګړدود) د یو شمېر غږېزو خصوصیاتو او صوتي ځانګړنو له پلوه ځان ته ځانګړې مقام او رنګ لري. د دې لهجوي ډلې یو غږاکونکې هم نهٔ شي کولی چې د عربي نور مستعار غږونه لکه: (ث، ذ، ص، ض، ط، ظ، ف، ق) هم په خپل اصل تلفظ ادا کړي. دوې دغه غږونه په ترتیب سره د (س،ز، س، ز، ت، ز، پ، ک) په غږونو اوړي. لکه: ثبوت: سبوت، صبر: سبر، ضعیف: زیپ، طوطي: توتي، ظلم، زولم، فواره: پواره، قاموس: کاموس او نور.

د پښتو خپل ښواک غږونه هم د تلفظ له پلوه په دوو ډلو کښې تقسیم شولی شو. څکه چې یوه ډله هغه ښواک غږونه (پ، ت، ټ، ج، چ، خ، د، ډ، ر، ړ، س، غ، ل، ن، ڼ) دي په خپل اصل تلفظ وئیلې شي. او بله ډله بیا هغه ښواک غږونه (ب، ځ، څ، ژ، ږ، ش، ښ، ه) په متبادلو غږونو وئیلې شي. د خپل اصل تلفظ پر ځاې په متبادلو غږونو تلفظ کېږي. چې په نتیجه کښې ئې داسې پام وړ او اهم لهجوي تغیرات رامنځ ته کېږي چې دغه لهجوي ډلې ته ځانګړې رنګ او مقام ورکوي.

بله د پام وړ خبره دا ده چې د متبادولو غږونو د ادا یا بدلېدلو قوانین او اصول هم کومه متعینه بڼه نهٔ لري. څکه چې په ځیني ځایونو کښې په یوه او ځیني ځایونه کښې بیا په بل متبادل ښواک غږ ځان بدلوي. چې د شننو دپاره تر اوسترې بریده د سرګرداني زړه نا زړه ورځ سبب جوړېږي.

**د (ش ـــــ ʃ) تلفظ**: د دې لهجوي ساحې (سهېلي پښتونخوا) هغه اوسېدونکي يا لساني ډله چې په شمال ختيځ، منځنيو، سهېل او سهېل ختيځ سيمو (شېراني، ږوب، موساخېل، لورالائي، کلاسېف، هندوباغ، زيارت، هرنائي، دوکۍ، کوهلو، کوټه، سيوۍ، او نورو د اټه نيوي (98%) کلمو (ش ـ ʃ) په (س ـ s) تلفظوي. لکه شګه: سکه، مشر: مسر، کشر: کسر، مياشت: مياست او نور

خو بل لور ته د شمال ختيځ سيمو لکه ږوب، موساخېل، لورالائي او نورو اوسېدونکي د يو شمېر پښتو او يو شمېر مستعار کلمو (ش ـ ʃ) په خپل اصل تلفظ هم وئيلے شي. لکه شپه، شکر، شين رنګ، شنځګي، شين خالۍ او نور. خو د منځنيو او سهېل ختيځ سيمو لکه: هندوباغ، خانوزي، زيارت، سنځاوۍ، هرنائي، کوهلو، دوکۍ او نورو اوسېدونکي بيا دغه (ش ـ ʃ) په (ښ ـ ʂ) چې د تلفظ د ډوله له پلوه منځتالوييزه او غبرګژبيژه (retroflex) دے تلفظوي، لکه ښاعر، خوښال، موښاعره او نور.

خو د دې لهجوي ساحې د شمال لوېديځ سيمو لکه پښين، عبدالله خان او چمن، ګلستان، توبه اڅکزي، دوه مندي او نورو اوسېدونکي د (ش ـ ʃ) غږ نه په (س ـ s) اوړي او نه په (ښ ـ ʂ). دوے د هرې او هر موقعيت (ش ـ ʃ) په خپل اصل تلفظ وائي، لکه مشر، کشر، مياشت، شګه او نور

**د (ژ ـــــ ʒ) تلفظ**: دا ډول د سهېل ختيځ ګړدود ډلې لساني ډله د (ژ ـ ʒ) تلفظ دپاره هم دوه غږونه يو خپل اصل تلفظ (ژ ـــ ʒ) او بل متبادل غږ (ز ـــ ʒ) کاروي. د منځنيو، شمال ختيځ، سهېل او سهېل ختيځ سيمو (شېراني، ږوب، موساخېل، کلاسېفه الله، لورالائي، هندوباغ، زيارت، هرنائي، دوکۍ، کوهلو، کوټه، سيوۍ، او نورو اوسېدونکي د کلمو د سر، منځ او پاے (ژ ـــ ʒ) د د خپل اصل تلفظ پر ځاے د (ز ـــ ʒ) په متبادل غږ تلفظوي. لکه: ژوند: زوند، زمند، روژه: روزه، ژواک: زواک او نور. خو بل لور ته د شمال لوېديځ سيمو لکه پښين، عبدالله خان او چمن، ګلستان، توبه اڅکزي، دوه مندي او نورو اوسېدونکو بيا دغه غږ (ژ ـــ ʒ) په خپل اصل تلفظ وائي. لکه: ژوند: ژوند، ژوند، روژه: روژه، ژواک: ژواک او نور

**د (ځ ـــ ʣ) تلفظ**: دا ډول د دې لهجوي ساحې غږاکونکي د ((ځ ـ ʣ) د ادائيګي له پلوه هم ترمنځ ژور لهجوي او غږيز توپيرونه لري. ځکه چې دغه غږ (ځ ـــ ʣ) هم له خپل اصل

تلفظ سره سره دوه نور متبادل غږونه هم لري. د کوټې ښار او نورو نیږدې سیمو اوسېدونکي دغه غږ (ځ ـ dz) د (ز ـ ʒ) په متبادل غږ تللفظوي، لکه: ځه: زه، زنځیر، زنزیر، ځوان، زوان، وریځ، وریز، ورځ: ورز او نور. خو د زرکونوالي او سیوی والي سیمه ایزو لهجو غږاکونکي بیا دغه غږ (ځ ـ dz) د (ج ـ dʒ) په متبادل بېواک غږ وائي، لکه: ځه: جه، زنځیر، جنجیر، ځوان، جوان، وریځ، وریج، ورځ: ورج او نور. دلته دا باید دا یادونه وکړو چې داماني پښتنائهٔ لکه اوستریانې، بابړ، میاخېل، گنډه پور، کونډي، مروت او نور هم دغه غږ (ځ ـ dz) د (ج ـ dʒ) په متبادل بېواک غږ تلفظوي وائي. لکه: راځه ځو: راجه جو، نن ورځ نهٔ ځم: نهٔ روج نهٔ جم او نور.

**د (څ ــــ ts) تلفظ:** د سهېل ختیځ کړدود ډلې په غږېز نظام کښې () هم هغه بېواک غږ دے چې د خپل تللفظ له پلوه ځانګړے ګڼلے شي. ځکه چې د دغه غږ (څ ـ) د تلفظ پر برخه هم بنیادي توپېرونه ترسترګو کېږي. د کوټې ښار او نیږدې مضافاتو اوسېدونکي دغه غږ (څ) د (س) متبادل تللفظ ادا کوي. لکه: څوک: سوک، څنګه: سنګه، بوڅ: بوس او نور. خو د زرکونوالي او سیوای والي سیمه ایزو لهجو غږاکونکي بیا دغه غږ (څ) د (چ) په متبادل تلفظ وائي، لکه: څوک: چوک، څنګه: چنګه، بوڅ: بوچ او نور.

**د (ږ ــــ z) تلفظ:** د یو شمېر نورو بېواکو غږونو په څېر د سهېل ختیځ کړدود ډلې غږاکونکي د (ږ ـــ z) تلفظ له پلوه هم په دوو ډلو کښې تقسیمولے شو ځکه چې یو شمېر خلګ ئې په اصل تلفظ (ږ ـــ z او یو شمېر خلګ په متبادل تلفلظ وائي. هغه خلګ چې په کوټه وال او سیوی والو سیمه ایزو کړدودونو خبرې کوي هغه دغه غږ (ږ) د (ژ ـــــ ʒ) متبادل غږ وائي، لکه ږیره: ژیره، ږلۍ: ژلۍ، کوږ: کوژ، موږ: میژ/موژ او نور. خو بل لور ته د دې لهجوي ساحې نور ټول اوسېدونکي دغه غږ () په خپل اصل تلفظ تلفظوي، لکه ږیره: ږیره، ږلۍ: ږلۍ، کوږ: کوږ، موږ: موږ او نور

**د(ب ـــ b) تلفظ**: دا ډول د سهېل ختیځ کړدود ډلې ټول غږاکونکي (لساني ډله) د یو شمېر کلمو په خصوص د مستعار کلمو د پا ے (ب) په (پ) تلفظوي. لکه: رباب: رباپ: ګلاب: ګلاپ: کباب: کباپ: عذاب: ازاپ او نور.

**د (د ـــ d) تلفظ**: د دغې لهجوي ساحې ټول غږاکونکي د یو شمېر کلمو د سر، منځ او پا ے (د ـ d) د (ت ـــ t) په غږ تلفظوي. چې په نتیجه کښې ئې د پام وړ لهجوي ځانګړنې رامنځ ته

کېږي، لکه: آباد: ابات، مدد: مدت، برباد: بربات او نور. که د بحث لمن رالنډه کړو نو وئیلے شو چې سهېل ختیځ ګړدود ډله که څه هم په لوړے سر کښې د سهېل لوېدیځ ګړدود ډلې (کندهاری یا نرمه لهجه) برخه او هغه ته ورته لهجوي او غږېزې ځانګړنې لري خو بل لور ته دغه ګړدود ډله ځان ته بېل هم داسې لهجوي او غږېز خصوصیات د یوې بېلې لهجې دپاره اهم ګڼلے شي. په خصوص د بېواک غږونو له پلوه دغه ګړدود ډله ځان ته داسې ځانګړے رغښت او لهجوي خصوصیات چې د پښتو ژبې له نورو لهجو سره د پام وړ لهجوي او غږېز توپیرونه لري.

## حوالي:

1. https://www.jstor.org/stable/

[2]. اتل، میرحسن، خان، سهېل ختیځ ګړدود ډلې لساني مطالعه، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، کال ۲۰۲۳م، مخ ۲۱م.

[3]. زیار، مجاور احمد، پښتو پښوېه، دانش خپروندویه ټولنه، پېښور، کال ۲۰۰۳م، مخ ۳۰م.

4 . Hand book of the international phonetic Association, Cambridge, university press, 2007, P. viii.

[5]. زیار، مجاور احمد، پښتو پښوېه، دانش خپروندویه ټولنه، پېښور، کال ۲۰۰۳م، مخ ۳۰م.

6 . Hand book of the international phonetic Association, Cambridge, university press, 2007, P. viii.

7. مرهون، محمود، اوازپوهنه، کائنات څېړنیز او ژباړې مرکز، کابل، کال ۱۳۹۴ل م، کابل. مخ ۷۵م

**Refrences**

(1). https://www.jstor.org/stable/
(2). Atal, Mir Hassan khan, Da Sohail khatiz gardod dalay lisani mutaliya, Pasho academy, Pashwar pohanton, 2023, makh 21.
(3). Ziya, Mujawar Ahmad, Pashto pashoya, Danish khparandoya, tolana Pashawa, 2003, makh 30.
(4). Hand book of the international phonetic Association, p. viii
(5). Ziya, mujawar Ahmad, Pashto pashoya, Danish khparandoya, tolana pashawa, 2003, makh 30.
(6). Hand book of the international phonetic Association, p. viii.
(7). Marhon, Mahmood, Awaz pohana, Kaynat seranz markaz, Kabul, 1329, Kabul, makh, 75